مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسميع صادق ۲۰۲۶/۰۳/۲۲

# آمينونه

## قصه په سلو ټکو کې

د اختر د لمانځه نه وروسته امام صاحب پاکستان ته ډېري ښراوي وکړې، هغه ئي ترهګر وباله او خدای ته ئي دعا وکړه چې له دې ګاونډي څخه مو خلاص کړي.

په سلهاوو کسانو آمين کړه!

په لسهاوو آمينو مي د زره براس ويستی.

په دا سبا مي، د تلويزيون پر پرده، د دوی د مُلا ښراوي د افغانستان پر وړاندي واورېدې.

موږ ئي دهشتګرد وبللو او له خدايه ئي وغوښتل چي افغانان نابود کړي.

په زرهاوو خلګو آمين وويل!

که پر مځکه خدای د ډېموکراسی پلوی وخوت، خو کار خراب دئ، په رايو کي راڅه وګټل، نابود ئي کړو!

محمدسميع صادق



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ